AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۴/۱۱/۰۸

# اسماعیل شاهد:
# کوم پښتون چې ځان افغان نه ګڼي، هغه پښتون نه دی


اسماعیل شاهد ملکزی

که څوک د اویا میلیونه پښتنو په منځ کې اسماعیل شاهد د دوو ټوکمارو پېرنګیانو، چارلي چاپلن او مسټر بین سره په یوه تله وتلي، نو ښایي غاړه به یې بنده نه شي. دا ۷۳ کلن بې جوړې هنرمند، د کوزې پښتونخوا په چارسدې کې زیږېدلی، FA (د ښکلو هنرونو) کالج یې لوستې او په ختّه اتمانزی دی. دوه ودونه یې کړي، درې زامن درې لوڼې لري او د درویشت لمسیانو ترخنګ، درې کړوسي هم لري. د ۲۷ کالو لپاره یې د پېښور د DC (مرستیال کمشنر) په دفتر کې ماموریت کړی او پلار یې د پېښور عدلي محکمې په انګړ کې چې کچرۍ نومېږي، د چاي او خوراک کانټین درلود.

د پښتو دغه منلی کومېډین او ځلېدلی ستوری چې موږ ټول د هغه له نوم، اداکارۍ او ډرامو سره اشنا یو، له تیرو څو اونیو راهیسې د کاناډا او امریکا ځینو ایالتونو ته هنري سفرونه لري.

تیره شپه، د کالېفورنیا د سانفرانسیسکو په سیمې کې د ځینو دوستانو له خوا ماښامنۍ ته رابلل شوې وو. ما هم د لومړي ځل لپاره له نژدې څخه ولیدلو چې ډېر متواضع، با خدا او کلیوال انسان دی. دا ښاغلی نه یواځې د شیشه اي پردې او سټېج په سر د نندارچیانو په مخونو او شونډو موسکا راولي، بلکې په حجرې او دېرې کې هم هڅه کوي چې د کوربنو عاطفه را وپاروي، شعور یې وتخنوي او د نغري ګرد چاپېره خلک ښه وخندوي.

د شهید سردار محمد داود، ډاکټر نجیب الله او حامد کرزي سره د ملاقاتونو، د لوېدیځې نړۍ د ښکلاوو او لاس انجلس کې د هالیوډ د نړۍ والې سټوډیو له خوږو خاطرو وروسته بې زما د دې پوښتنې په ځواب کې چې د خندا او موسکا دا هنر دې له چا زده کړېدی؟ داسې وویل: (دا یوه الهي ورکړه ده، زه په دې فن کې هېڅ استاد نه لرم. البته د شوکت علي، مسعود احمد شاه، عزیز اعجاز، فرمان الله خان او صلاح الدین په څېر تکړه ډاېکټرانو او پروډوسرانو څخه مې ډېرڅه زده کړي او زه یې پوروړی یم. د پلار په ژوند کې ما د هیڅ ډول هنري فعالیت جُرئت نه درلود؛ د هغه له وفات وروسته په ۱۹۷۷م کال کې د پېښور راډیو سټېشن ته لاړم چې که وکولاې شم یوه سندره ثبت کړم. خو هلته راته د تمثیل سَت او وړاندیز وشو؛ دا لړۍ هماغه دم پیل شوه او تردې دمه روانه ده. که چېرې زما ټلویزیوني ډرامې، Telefilm (ټلویزیوني لنډ فلمونه) او د سټېج ننداره حساب شي، نو ممکن شمېر به یې په زرګونو وي، خو د پښتو سېنمایي فلمونو شمېر مې له اتو زیات نه دی).

ما ورڅخه پوښتنه وکړه چې آیا فکر نه کوې د دغو فلمونو او ډرامو ژبه او د هنرمندانو نازیبا حرکتونه د پښتنو درونډ او حیاناک کلتور ته د ګټې په ځای تاوان رسوي؟ داسې ځواب یې راکړ: (بالکل، ستاسو خبره ټیک ده چې د پښتنو د رسمونو، شملو او هیلو انځور په کې تر ډیره ځایه نه مراعت کیږي. خو اصلي خبره د فلمونو او شوګانو د جوړونکو ده. دوئ هغه څه لیدونکو ته وړاندې کوي چې هم خپلې مصرف شوې پیسې بېرته ترلاسه کړي او هم نورې وګټي. زه شخصا په هغو ډرامو او تیاترونو کې کار نه کوم چیرته چې د کورنیو حُرمت په پام کې نه نیول کیږي). نومړی مني


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې د پښتو ډرامو کیفیت او معیار د پخوا په څېر خوندور نه دی پاتې او د کورنی له ښځینه غړو سره د ځینو ډرامو یوځای لیدل اوس ګران شویدي.
اسماعیل شاهد د ډرامو د متن او نوعیت په اړه وایي: (ما یوه ډرامه هم پخپله نه ده لیکلې، ولې ډېر کله مې په متن کې ادلون بدلون راوستي، مناسبې مکالمې مې لیکلې دي او هدایتکاري مې هم ډېره کړېده. د اروابناد ډاکټر محمد اعظم په قلم لیکل شوې ډرامه سترې مه شئ، همدارنګه شرط، دوه دوه پنځه، جادوګر او ملنګی هغه ډرامې دي چې بیخي ډیرې کتل شویدي. د میم زرما ټلویزیوني ډرامه چې بیا اردو ته وژباړل شوه، زما د ویاړ ډرامه چې د پاکستان د ولسمشر له خوا ما ته د غوره کردار د اجراء کولو له مخې جایزه راکړل شوه، دا زما یوه له تاریخي ډرامو څخه ګڼل کیږي).
د دې ځانګړې مرکي په پای کې مې اسماعیل شاهد وپوښته چې د پښتنو غوڅ اکثریت د ښکلو هنرونو ټول ژانرونه خوښوي، خو پیکه اړخ یې دا دی چې د خپلو هنرمندانو چندان قدر نه کوي او په بازاري لهجې یې یادوي. نو آیا ته کله له داسې کوم ځوروونکي برخورد سره مخ شوی یې؟ ځواب یې ځرګند او دا ډول وو: ( نه ملګزی صېب نه، زه هیڅکله له دغسې ناخوالې چلند سره نه یم مخ شوی. زه په خپلو ولسونو ډېر ګران یم، هر چېرې چې تللی یم دوئ زه نازولی یم، الله دې د دوئ قدر وکړي. خو زه دلته له ټولو پښتنو څخه یوه هیله او غوښتنه لرم چې په خلکو! د الله او رسول په خاطر یو اتفاق شئ او دا ژبه مو ژبه کړئ. بله دا چې زه سیاسي سړی نه یم مګر دا یوه خبره ښه په صفا ټکو کې کوم: هر پښتون چې په هرځای کې دی او هغه خپل ځان افغان نه ګڼي، نو هغه د سره پښتون نه دی).
---------------------------------

یادونه: په مننې سره، که لوستونکي وخت او علاقه لري، نو کولای شي د ملګزي نورې لیکنې او ځیرنې د هغه په فیسبوک، لنکد ان او د یوتیوب په چینل کې ولولي او وګوري؛ ادرس یې دا دی: Wali Malakzay

[د لیکوال نورې لیکنې په دې لینک کې ولولئ]()


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ